قاصد
QASED
Strategic Research Center

# راصد

## ۴۰ مه ګڼه

(۷–۱۳ فبروري ۲۰۲۰م)
(۱۸–۲۴ دلو ۱۳۹۸هـ ش)

## د افغان جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونیز راپور



راصد اوونیز راپور په افغانستان کې د جګړو او امنیتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقیق ډول څاري. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچینو، د طالبانو د سرچینو، په سیمه کې عیني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچینو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زیانونو ته د ټولنې د نخبه پاړکي، واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو او همدا راز نړیوالو جهتونو پام راړول دي.


www.qased.org
info@qased.org
077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۲۰م کال د فبروري له ۷مې تر ۱۳مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د سلواغې له ۱۸مې تر ۲۴مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې رانغاړي. پدې اونۍ کې د ټول هېواد په کچه ۲۴۲ تنه وژل شوي او ۱۴۵ نور هم ټپیان شوي دي.

د راپور د شمېرو له مخې، دا اونۍ په هېواد کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې کچه ټیټه شوې ده. تېرو دوو اوونیو کې په ټول هېواد کې ۸۵۳ تنه وژل شوي او ټپیان شوي وو، خو په پدې اوونۍ کې ټول ۳۸۷ تنه وژل شوي او ټپیان شوي دي.

د حکومتي ځواکونو په اړخ کې د مرګ‌ژوبلې کچه د تېرو دوو اوونیو په پرتله ټیټه شوې ده. د افغان ځواکونو د مرګ‌ژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښې په هلمند، بغلان او کابل ولایتونو کې وشوې، چېرته چې د دولت د وسله‌والو مخالفینو په بریدونو کې لږ تر لږه ۱۳ پولیس ووژل شول او ۴۵ نور ټپیان شول.

د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرو دوو اوونیو په پرتله د کموالي ښودنه کوي. د ملکي مرګ‌ژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښې په میدان وردګ، کندز، بادغېس، فراه او کابل ولایتونو کې وشوې، چې لږ تر لږه ۲۱ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۱۵ تنه نور ټپیان شوي دي.

د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرو دوو اوونیو په پرتله د کموالي ښودنه کوي. همدا راز د ننګرهار ولایت په شېرزادو ولسوالۍ کې د افغان او بهرنیو ځواکونو په خپلمنځي وسله‌واله نښته کې دوه تنه بهرني سرتېري ووژل شول او ٦ تنه نور ټپیان شول.

په دغه راپور کې د افغان ځواکونو، د دولت د وسله‌والو مخالفینو، ملکي خلکو او بهرنیو ځواکونو د مرګ‌ژوبلې شمېرې او جزئیات لولئ. همدا راز د راپور په وروستۍ برخه کې د هېواد د ټولیز امنیتي وضعیت او مهمو امنیتي پېښو په اړه تحلیل لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د فبروري ۷مه:**

د هرات ښار په نو آباد سیمه کې د پولیسو د عملیاتي قطعې قوماندان په تېروتنې سره د ملي اردو سرتېرو په ډزو کې ووژل شو.

د کندهار ښار د لسمې امنیتي حوزې اړوند په خواجک بابا سیمه کې، یو پولیس او یو د ملي امنیت سرتېری د ناپېژاندو وسله‌والو په برید کې ووژل شول.

د بلخ ولایت په چمتال ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې د ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې، ۲ تنه د ملي اردو سرتېري وژل شوی دي.

وسله‌والو طالبانو د بلخ ولایت په شورتېپه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو پر یوه پوسته برید وکړ، چې له کبله يې یو د ملي اردو سرتېری وژل شوی او یو تن بل ټپي شوی دی.

د بغلان ولایت د پلخمري ښار په حسین‌خېل سیمه کې یو سیمه‌ییز پولیس د وسله‌والو طالبانو په کمین کې وژل شوی دی.

د فاریاب ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې یو د ملي اردو سرتېری د وسله‌والو طالبانو له لوري وژل شوی دی.

**د فبروري ۸مه:**

د هلمند ولایت په ګرشک ولسوالۍ کې په یوه هاموې موټر کې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله ۴ پولیس وژل شوي او ۲ تنه نور ټپیان شوي دي.

د ننګرهار ولایت په شېرزادو ولسوالۍ کې د افغان او بهرینو ځواکونو ترمنځ په خپلمنځي نښته کې یو د ملي اردو سرتېری وژل شوی او ۳ تنه نور ټپیان شوي دي.

**د فبروري ۹مه:**

د کندز ولایت د خان آباد او علي آباد ولسوالیو ترمنځ په موسي‌زي سیمه کې، د افغان ځواکونو په هاموې موټر د ماین د چاودنې له کبله ۲ پولیس وژل شوي او ۳ تنه نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د کندز ولایت د علي آباد ولسوالۍ په مرکز برید وکړ، چې له کبله يې یو پولیس وژل شوی او یو تن بل ټپي شوی دی.

د بدخشان ولایت په بهارک ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په کمین کې د سیمه‌ییزو پولیسو یو قوماندان وژل شوی او یو تن بل ټپي شوی دی.

**د فبروري ۱۰مه:**

د بغلان ولایت د بغلان مرکزي ولسوالۍ په ځنګل باغ سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په ۱۲ ساعته وسله‌واله نښته کې ۳ تنه پولیس وژل شوي او ۳۳ تنه نور امنیتي سرتېري ټپیان شوي دي.

د هرات ښار د دوهمې امنيتي حوزې اړوند سيمه کې ناپېژاندو وسلهوالو موټر سايکل سپرو يو پوليس په ډزو وواژه.

د هلمند ولايت د ګرشک ولسوالۍ په مرکز کې يو پوليس د ناپېژاندو وسلهوالو طالبانو په برید کې ووژل شو.

د هلمند ولايت د مرکز لښکرګاه اړوند د پوليسو په اتمه حوزه کې د وسلهوالو طالبانو په برید کې يو پوليس وژل شوی او ۳ تنه نور ټپيان شوي دي.

**د فبروري ۱۱مه:**

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ په مراسي سيمه کې يوه سيمهييز پوليس خپل درى ملګري په ډزو ووژل.

د کابل ښار د پنځمې امنيتي حوزې اړوند د مارشال فهيم پوهنتون په دروازه کې چاودنه وشوه، چې له کبله يې ۴ تنه د ملي اردو سرتېري وژل شوي او ۷ تنه نور ټپيان شوي دي.

**د فبروري ۱۲مه:**

د هلمند ولايت په ناوه ولسوالۍ کې د يوه ماين په چاودنه کې ۵ تنه پوليس وژل شوي دي.

**جدول-۱: افغان ځواکونو ته اوښتي مرګژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۹ | ۱۱ | ۲۰ |
| پوليس | ۲۶ | ۴۲ | ٦۸ |
| مجموعه | **۳۵** | **۵۳** | **۸۸** |

## د دولت د وسلهوالو مخالفينو مرګژوبله

**د فبروري ۷مه:**

د فراه ولايت په کوکشيب سيمه کې د افغان ځواکونو او د دولت د وسلهوالو مخالفينو ترمنځ په وسلهواله نښته کې ۲ د دولت وسلهوال مخالفين وژل شوي دي.

د بلخ ولايت په چمتال ولسوالۍ کې په يوه هوايي برید کې د وسلهوالو طالبانو د ولسوال په ګډون ٦ تنه وسلهوال طالبان وژل شوي دي.

د کابل ښار انټرکانټیننټال هوټل ته څېرمه دوه لوړ پوړي پاکستاني طالبان وژل شوي دي.

د بلخ ولایت په شورتېپه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۵ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د فبروري ۸مه:**

د فراه ولایت په قلعه‌کاه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې ۱۳ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي او ۳ تنه نور ټپیان شوي دي.

د سرپل ولایت د صیاد ولسوالۍ په درهٔ بند سیمه کې ۵ تنه وسله‌وال طالبان د خپل ماین په چاودنه کې وژل شوي دي.

**د فبروري ۹مه:**

د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ په اروغو سیمه کې د افغان امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ تنه نور ټپیان شوي دي.

د کنړ ولایت د څوکۍ ولسوالۍ په ډیوه ګل دره کې په یوه هوایي برید کې ۷ داعش وسله‌وال وژل شوي او ۱۱ تنه نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په نو آباد، سپین کی او خواجه ګلبرداد سیمو کې په هوایي بریدونو کې ٦ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۲ تنه نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولایت د شورتېپې ولسوالۍ په شورایق ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو په برید کې ۲ تنه دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي او ۳ تنه نور ټپیان شوي دي.

**د فبروري ۱۰مه:**

د اروزګان ولایت په مرکز ترینکوټ، دهراوود او خاص اورزګان ولسوالیو کې د افغان ځواکونو په ځکمنیو او هوایي بریدونو کې ۸ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او ٦ تنه نور ټپیان شوي دي.

**د فبروري ۱۱مه:**

د هلمند ولایت په نهرسراج ولسوالۍ کې په هوایي برید کې ۵ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او یو تن بل ټپي شوی دی.

**د فبروري ۱۲مه:**

د بغلان ولایت د بغلان مرکزي ولسوالۍ په جرخشک سیمه کې د ګډو افغان ځواکونو په عملیاتو کې ۱۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۰ تنه نور ټپیان شوي دي.

د لغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې د ګډو  افغان ځواکونو په برید کې ٦ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په قلعهٔ شامیر او بند تیموري سیمو کې په هوایي بریدونو کې ۳ تنه طالب وسله‌وال وژل شوي دي.

د فراه ولایت په پشترود ولسوالۍ کې په یوه هوایي برید کې ۴ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي دي.

د ننګرهار ولایت په شېرزادو ولسوالۍ کې ۱۱ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د فبروري ۱۳مه:**

د کنړ ولایت په مروړي ولسوالۍ کې یو تن وسله‌وال طالب د کنټرولېدونکي ماین په چاودنه کې ووژل شو.

په هرات ولایت کې دافغان ځواکونو په یوه هوایي برید کې ٦ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د لغمان ولایت په الینګار ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په برید کې ۲ تنه وسله‌وال طالب وژل شوي او ۴ تنه نور ټپيان شوي دي.

د بلخ ولایت په چهاربولک ولسوالۍ کې ۳ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي او ۵ تنه نور ټپيان شوي دي.

د فراه ولایت د کهسان ولسوالۍ په بند سفید سیمه کې په یوه هوایي برید کې ٦ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د ننګرهار ولایت په دوربابا او مومندرې ولسوالیو کې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې ۴۴ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي دي

**جدول-۲: د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۱۵٦ | ۴۹ | ۲۰۵ |
| داعش | ۷ | ۱۱ | ۱۸ |
| مجموعه | **۱٦۳** | **٦۰** | **۲۲۳** |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګژوبله

**د فبروري ۷مه:**

په سرپل ولایت کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې یوه ۱۷ کلنه نجلۍ وژل شوې ده.

د جوزجان ولایت د درزاب ولسوالۍ په مرکز کې د یوه ماین د چاودنې له کبله دوه ماشومان وژل شوي او ۳ تنه نور ټپیان شوي دي.

د میدان وردګو ولایت د دایمیردادو ولسوالۍ په حکیم خېلو کلي د بې پیلوټې الوتکې په برید کې ۳ تنه ملکي وګړي وژل شوي او یو تن بل ټپي شوی دی.

په تخار ولایت کې یو ملکي وګړی لومړی د وسله‌والو طالبانو له لوري تښتول شوی او وروسته وژل شوی دی.

**د فبروري ۸مه:**

د بادغېس ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ په قوروتوی سیمه کې په یوه هوایی برید کې ٦ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۳ تنه نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت په ګرشک ولسوالۍ کې په یوه هاموې موټر کې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله ۲ تنه ملکي وګړي وژل شوي او یو تن بل ټپي شوی دي.

**د فبروري ۹مه:**

د تخار ولایت د دشت قلعه ولسوالۍ په ماش آبه قشلاق سیمه کې په یوه ملکي کور د هاوان د مرمۍ د لګېدنې له کبله یو ماشوم وژل شوی او ۴ تنه نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په یوه پوسته برید وکړ، چې ۲ ملکي وګړي هم پکې ووژل شول.

همدا راز د وسله‌والو طالبانو په ډزو کې یو بل تن وژل شوی دی.

**د فبروري ۱۰مه:**

په فراه ولایت کې د یوه هوایی برید له کبله ۵ تنه ملکي وګړي چې تاجران وو وژل شوي دي.

د سرپل ولایت په یکاب دشت سیمه کې د ناپېژاندو وسله‌والو په برید کې یوه مور او لور وژل شوي دي.

**د فبروري ۱۱مه:**

د کابل ښار د کوټه سنګي اړوند سیمه کې د نښلوونکي ماین د چاودنې له کبله یو تن ټپی شوی دی.

د کابل ښار د پنځمې امنیتي حوزې اړوند د مارشال فهیم پوهنتون په دروازه کې چاودنه وشوه چې له کبله یې ۲ ملکي وګړي وژل شوی او ۸ تنه نور ټپیان شوی دي.

د بادغیس ولایت د مرکز قلعه نو په لامان سیمه کې د سړک ترغاړې د ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې یو ملکي وګړی وژل شوی او یو تن بل ټپي شوی دی.

**د فبروري ۱۲مه:**

د بغلان ولایت د کابل ـ بغلان په لویه لاره د دوشي ولسوالۍ اړوند سیمه کې یو تن موټر چلوونکی د وسله‌والو طالبانو له لوري ووژل شو.

د کندز ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې په یوه هوایي برید کې ۲ تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

**د فبروري ۱۳مه:**

د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د یوه ماین د چاودنې له کبله ۵ تنه ملکي وګړي وژل شوی او ۳ تنه نور ټپیان شوي دي.

د خوست ولایت د نادرشاه‌کوټ ولسوالۍ په زیني خېلو سیمه کې د ډرون په برید کې ۵ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي.

د بغلان ولایت په مرکز پلخمري کې یوه ښځه د ناپېژاندو وسله‌والو طالبانو په برید کې ووژل شوه.

**جدول-۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۴۲ | ۲٦ | ٦۸ |
| مجموعه | **۴۲** | **۲٦** | **٦۸** |

## بهرنیو ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د فبروري ۸مه:**

د ننګرهار ولایت په شېرزادو ولسوالۍ کې د افغان او بهرنیو ځواکونو ترمنځ په خپلمنځي وسله‌واله نښته کې ۲ تنه امریکایي سرتېري وژل شوي او ٦ تنه نور ټپیان شوي دي.

## پایله او د اوونۍ تحلیل

د راپور د شمېرو له مخې، د روان لمریز ۱۳۹۸ کال د سلواغې له ۱۸مې تر ۲۴مې (د ۲۰۲۰م د فبرورۍ له ۷مې تر ۱۳مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۳۸۷ تنو ته مرگ‌ژوبله اوښتې ده، چې ۲۴۲ یکې وژل شوي او ۱۴۵ نور هم ټپیان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د جگړې د مرگ‌ژوبلې مجموعي کچه ټیټه ده. د افغان ځواکونو مرگ‌ژوبله په دې اوونۍ کې د تېرو دوو اوونیو په پرتله د ټیټوالي کموالي کوي. تېرو دوو اوونیو کې ۱۲۷ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي وو؛ خو په پدې اوونۍ کې دا کچه ټیټه شوې ده او ټول ۳۵ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي دي. د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرگ‌ژوبلې کچه د تېرو دوو اوونیو په پرتله ټیټه شوې. تېرو دوو اوونیو کې ۳۲۸ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي وو؛ خو پدې اوونۍ کې دا شمېره ۱۶۳ تنه ده. د ملکي وگړو د مرگ‌ژوبلې کچه هم د تېرو دوو اوونیو په پرتله د کموالي ښودنه کوي. تېرو دوو اوونیو کې د ملکي وگړو د وژل شوو شمېر ۵۳ تنه و، خو په دې اوونۍ کې بیا دا شمېره ۴۲ تنو ته را ټیټه شوې ده.

دا اوونۍ د افغان ځواکونو، د دولت د وسله‌والو مخالفینو او ملکي وگړو لپاره یو ځل بیا یوه خونړۍ اوونۍ وه. پدې اوونۍ کې په کندهار ولایت کې د پولیسو په لیکو کې یوه نفوذي کس درې سیمه‌ییز پولیس په ډزو ووژل. یوه څېړنه ښیي، چې په تېرو څلورو کلونو کې د افغان امنیتي ځواکونو په لیکو کې تر ۲۰۰ سوو ډېرې نفوذي بریدونه شوي دي. او د ډېرو دغو بریدونو مسئوولیت وسله‌والو طالبانو پر غاړه اخېستی دی. د چارو شنونکو، استخباراتي کمزوري د دغو بریدونو لوی دلیل گڼلی، خو دفاع وزارت بیا د داسې پېښو د کمېدو ادعا کړې ده. که څه هم پدې اوونۍ کې د تېرو دوو اوونیو په پرتله د مرگ‌ژوبلې کچه ټیټه وه خو ملکي وگړو ته ډېره مرگ‌ژوبله بیا هم د افغان او بهرنیو ځواکونو په شپنیو او د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې اوښتې ده. پر ملکي وگړو هوایي بریدونه یو ستر بشري جنایت دی، دا اوونۍ په فراه، کندز، بادغیس او میدان وردگو ولایتونو کې د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې ډېره مرگ‌ژوبله اوښتې ده.د میدان وردگو ولایت په دایمیردادو ولسوالۍ کې د بې پیلوټې الوتکې په برید کې درې تنه ملکي وگړي وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی، د وژل شوي کسانو څخه یو د غزني پوهنتون څخه فارغ او دوه نور محصلین وو.

دغه خونړی وضعیت داسې مهال دی، چې په قطر کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو لسم پړاو هم بای ته ورسېد او په یوه بې مخینې پرمختگ کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له طالبانو هوکړه په مشروط ډول تایید کړه. دا پرمختگ وروسته له هغه وشو، چې طالبانو د اوږدې مودې لپاره د تاوتریخوالي له کمښت سره هوکړه وکړه او داسې برېښي چې په راتلونکو ورځو کې به دا هوکړه پلې شي؛ ځکه ولسمشر ټرمپ په یوه مرکه کې ویلي، چې له طالبانو سره

هوکړې ته خورا نږدې شوي دي او راتلونکې دوې اوونۍ به هر څه روښانه کړي. د تاوتريخوالي د کمښت له مودې وروسته به د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لاسليک شي، چې له مخې به يې امريکايي پوځونه له افغانستانه وځي او د امريکا تر تېولو اوږدې بهرنۍ جګړې د پای ته رسېدو لپاره به زمينه برابره شي. تمه ده چې د امريکا طالبانو د هوکړې تر لاسليک سملاسي وروسته به بين الافغاني خبرو اترو ته هم زمينه برابره شي. دغه پرمختګ په ټوليز ډول د افغانانو ترمنځ هيله مني او خوشبيني راټوکولې ده.

قاصد د ستراتېژيکو څېړنو مرکز په هېواد کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې د څارونکي ارګان په توګه ټينګار کوي، چې په هېواد کې د رواني وينې تويېدنې او خونړي وضعيت پای يوازې او يوازې د بهرنيو ځواکونو د بشپړ وتلو او سولې له لارې شونی دی. له همدې کبله پر افغان حکومت او ښکېلو نړيوالو لورو غږ کوو، چې د جګړې پر ډګر د تمرکز پر ځای د سولې هڅو ته پام واړوي.

**جدول-۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګ‌ژوبله:**

| تپيـــــان | نوم | وژل شـــوي | نوم |
|---|---|---|---|
| ۵۳ | افغان ځواکونه | ۳۵ | افغان ځواکونه |
| ٦۰ | د دولت وسله‌وال مخالفين | ۱٦۳ | د دولت وسله‌وال مخالفين |
| ۲٦ | ملکي وګړي | ۴۲ | ملکي وګړي |
| ٦ | بهرني ځواکونه | ۲ | بهرني ځواکونه |
| **۱۴۵** | **مجموعه** | **۲۴۲** | **مجموعه** |
| **۳۸۷** | | | |

پای